مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۰۵

ځيرک الوځي

ځيرك په نوروز کي له مور او پلار سره مزار شريف ته، د سخي صاحب زيارت ته تللی و.
په زيارت کي ډېري کوتري وي. ټولي تکي سپيني. ځيرك کوترو ته ږدن واخيستل. دی په اول سر کي يو څه وږږده خو وروسته يي وليدل چي کوتري سړی نه ژوبلوي. هغه په يوه هوار غاب کي ږدن واچول. غاب يي په لاس کي ونيو. يوه کوتره راغله. د ځيرك پر لاس کښاسته. ژر ژر يي دانه وخوړه، بيا والوته. بله کوتره راغله. هغې هم ځان مور کړ او والوته.
ځيرك ته پوښتنه پيدا شوه چي ولي انسان الوتلای نشي؟
هغه وليدل چي کوتري اول وزرونه رپوي، بيا په هوا کيږي. ده هم خپل لاسونه د وزرو غوندي ورپول. د پښو پر ګوتو ودرېد. ځان يي پورته خوا کش کړ خو پښي يي له ځمکي ښلي نه شوی. هوا ته يي ټوپ وواهه خو د سترګو په رپ کي ښرته راولوېد.
زړه يي ډېر غوښتل چي والوځي. له پلاره يي پوښتنه وکړه: زه چي پورته ټوپ وهم، ولي ښرته راغورځيږم؟
پلار يي وويل: دا خو د ځمکي د جاذبې قوه ده چي هر څه د ځمکي خوا ته راکاږي.
ځيرك وويل: نو ولي کوتري نه راکاږي؟
هلته د کوترو څو بڼکي لوېدلي وي. پلار يي يوه بڼکه راواخيسته. دا بڼکه پلنه وه. په منځ کي يي د هډوکي په شان کلك شی غځېدلی و خو دروند نه و. بڼکه داسي سپکه وه چي په يوه پوکي هوا ته پورته کېده.
پلار يي وويل: وګوره! د کوترو وزرونه له همدغسي بڼکو جوړ شوي دي. د کوترو هډونه هم همداسي سپك دي.
هغه بڼکه په منځ کي ماته کړه. منځ يي تش و.
د ځيرك پلار وويل: کوتري ځکه الوتلای شي چي هم يي بدن سپك دی او هم يي وزرونه سپك دي.
بله ورځ دوی په موټر کي ښرته کابل ته راغلل. موټر چي په سالنګ غره پورته کېده، ځيرك سترګي پټي کړي وي. په خيال کي يي ګرځېدل چي موټر د اسمان خوا ته روان دی. موټر چي به د سړك په کندو کپرو باندي جټکه وخوړه، د ځيرك په خيال کي ګرځېدل چي موټر له ورېځو سره ټکر کوي. ډېر خوند يي ورکړی و.
د ځيرك دوی په کوڅه کي يو چا چرګان خرڅول. هغه ځيرك ته ښې ډېري بڼکي ورکړي. دغه بڼکي د کوترو تر بڼکو غټي وي. ځيرك اول بڼکي پاکي پرېمينځلي. وروسته يي تار راواخيست. بڼکي يي پر ځمکه هواري کړي. په تار سره يي سره ځنګ په ځنګ وټرلي. پلن اوږده وزرونه يي جوړ کړل. بيا يي دا وزرونه په خپلو مټو پوري وټرل.
وزرونه يي ورپول. پورته پورته يي ټوپونه ووهل خو چي هر څه يي وکړل، په هوا نه شو.
ځيرك په ښوونځي کي له ښوونکي پوښتنه وکړه: معلم صاحب! ما خو ځان ته وزرونه جوړ کړي دي نو زه ولي الوتلای نشم؟
ښوونکي ځواب ورکړ: ګوره ځيرك جانه! ته دروند يي. دغه وزرونه تا نشي پورته کولای.
بله ورځ ځيرك په ټلويزيون کي وليدل چي د سمندر په غاړه زانې، هيلي او نور غټ غټ مرغان الوځي. ځيرك فکر وکړ چي دغه مرغان خو هم درانه دي؛ ځکه چي ډېر غټ دي؛ مګر بيا هم الوتلای شي. د ده پام يوه بل شي ته شو. غټو مرغانو تر الوتو مخکي پر ځمکي يا پر اوبو مندې وهلي. هغه ته وريادشول چي الوتکي هم اول چټکي ځغلي، بيا هوا ته پورته کيږي. الوتکي خو هم ډېري درنې دي خو الوتلای شي.
ځيرك په مندې انګړ ته ووت. خپل وزرونه يي وټرل. مندې يي ووهلي. چي ښه ګرمې شو، هوا ته يي ټوپ کړ. دا ځل تر نورو ورځو يو څه زيات پورته ولاړ خو بيا هم ځمکي هغه ژر راکش کړ. هغه څو واري دا کار وکړ. الوتلای نه شو خو بيا هم خوشاله و.
مازديګر چي د ځيرك پلار له کاره راغی، هغه ته يي بوغی راوړي وه. بوغی خو به پېژنئ؟ ځيني ماشومان ورته پوکنی وايي، د خوست ماشومان يي ډډوينه بولي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځيرك خپله بوغۍ په کوټه کې خوشې کړه. بوغۍ پورته ولاړه. په چت پورې ونښته. ځيرك ټوپ ووا‌هه. د بوغۍ تار يې ونيو. ښرته يې راکښته کړه. پلار يې ورته بله تشه بوغۍ هم راوړې وه. ځيرك هغه پو کړه. خوله يې په تار سره وټرله. دا يې هم خوشې کړه خو دغه بوغۍ پورته نه ولاړه بلکې لاندې پر ځمکه ولوېده.
ځيرك بيا حيران شو چې ولې يوه بوغۍ لوړه ځي او بله نه ځي؟ پلار ته يې دا خبره وکړه. پلار يې هم نه پوهېده چې ولې داسې کېږي.
پلار يې لږ فکر وکړ، بيا يې وويل: راځه چې له ګاونډي څخه پوښتنه وکړو.
د هغوی ګاونډی د فزيك ښوونکی و. هغه وويل: هغه پوکنۍ چې پورته ځي، له داسې هوا ډکه ده چې د ځمکې تر هوا سپکه ده؛ ځکه خو لوړه ځي. هر شی چې تر هوا سپك وي، پورته تلای شي.
ښوونکي ځيرك ته يوه سي ډي ورکړه، ويې ويل: ځيرك جانه! دا به په ټلويزيون کې وګوري. سبا به د همدې فلم په هکله يوه پوښتنه درنه وکړم.
ځيرك فلم وکوت. په فلم کې د پوکنۍ په شان يو خورا لوی بالون ښکاريده چې يوه ډولۍ ورپورې ټړل شوې وه. په ډولۍ کې دري کسان ناست وو. د ګازو لويه ډبه يې هم په ډولۍ کې ايښې وه. ګاز يې ولګاوه. د بالون منځ ته د اور لمبې پورته شوې. بالون کرار کرار له ځمکې پورته شو. په ډولۍ کې ناست کسان ډېر خوشاله وو. هغوی وار په وار پورته کېدل. ان تر غونډيو هم پورته ولاړل. ښه خوندور سيلونه يې وکړل. پر شنو باغونو وګرځېدل، سيندونه يې له پاسه وليدل، د غونډيو له سره تېر شول. وروسته يې د ګازو اندازه کمه کړه. د اور لمبې کمې شوې. بالون مخ په کښته روان شو. څومره چې اور کمېده، هماغومره بالون کښته راته.
سبا د فزيك ښوونکي پوښتنه وکړه: ښه نو ځيرك جانه! اوس راته ووايه چې بالون څنګه هوا ته پورته شو؟
ځيرك ووېل: ټوله خبره په اور کې وه. اور چې زياتېده، بالون پورته کېده او اور چې کمېده، بالون کښته راته.
معلم ووېل: افرين! هوايي پوکنۍ ولې پورته تله؟
ځيرك ځواب ورکړ: ځکه چې په منځ کې يې سپکه هوا وه.
ښوونکي بيا پوښتنه وکړه: ښه نو، اور خو به بالون ګرموي که نه؟
_ هوکې. اور هر شی ګرموي.
_ څه فکر کوې، بالون چې ګرم شي، ولې پورته ځي او چې سوړ شي، ولې کښته راځي؟
ځيرك لږ فکر وکړ. بيا يې ووېل: ګرمه هوا به تر سړې هوا سپکه وي.
ښوونکي د ځيرك پر سر لاس ورټېر کړ، ويې ويل: افرين! ځيرك جانه. ته خو ډېر هوښيار يې.
بله ورځ د ځيرك ماما د هغوی پوښتنې ته راغی. هغه د الوتکو انجينير و. د ځيرك مور ورته کيسه وکړه چې ځيرك د الوتنې ډېر شوق لري او په ډېرو شيانو هم پوهېږي.
ماما يې ځيرك ته ووېل: افرين خوريیه! دا راته ويلای شې چې الوتکه څنګه الوځي؟
ځيرك ووېل: هو، يو خو په دې خاطر چې وزرونه لري. بل دا چې اول پر ځمکه ځغلي، ځکه چې درنه ده. که اول منډه ونه وهي نو بيا خو الوتلای نه شي.
ماما ووېل: افرين. نو دا راته ووايه چې الوتکه تېل خوري که نه؟
ځيرك ووېل: هو، الوتکه تېل خوري. په تېلو باندې د هغې په منځ کې هوا ګرمېږي. ګرمه هوا تر سړې هوا سپکه وي؛ نو ځکه الوتکه پورته ځي.
ماما يې ووېل: ګرانه! ستا ټولې خبرې سمې دي؛ خو ګرمه هوا الوتکه نه پورته کوي.
ځيرك ووېل: ولې نو، بالون خو همداسې په هوا کېږي.
ماما يې ځواب ورکړ: تېل د الوتکې انجن چالانوي. انجن د الوتکې له مخې څخه هوا رااخلي او شا ته يې وباسي. همدغه هوا الوتکه مخې ته تېلې وهي.
ماما هم د ځيرك لپاره پوکنۍ راوړې وه. پوکنۍ يې له هوا ډکه کړه. خوله يې په ګوتو باندې بنده کړه. له ځايه پاڅېد. د پوکنۍ خوله يې خلاصه کړه. پوکنۍ په هوا کې مخ په وړاندې لاړه. څومره چې د پوکنۍ هوا کمېده، هماغومره ورو کېده او د ځمکې خوا ته راکوزېده. هوا يې چې خلاصه شوه، پوکنۍ کراره پر ځمکې ولوېده.
ماما ووېل: ودې ليدل؟ پوکنۍ ځکه وړاندې تله چې هوا يې شا ته ايسته. د پوکنۍ خوله تنګه ده؛ نو هوا په زوره ورنه وځي، همدا زور پوکنۍ مخې ته تېلې وهي. د الوتکې انجن هم هوا په زوره شا ته تېروي او د هوا زور الوتکه په هوا کې مخته بيايي.
ځيرك ووېل: ماما جانه! ما په الوتکه کې سپروې؟
ماما ووېل: ولې نه، بله اوونۍ زمونږ الوتکه هرات ته ځي، تا به هم راسره بوځم.
ځيرك تر بلې اوونۍ د الوتنې په شوق خوشالي کوله.
پوښتنې:
۱. که غوا ته وزرونه جوړ کړو؛ نو الوتلای شي؟ ولې؟
۲. بادېوه يا کاغذباد څنګه په هوا کېږي؟
۳. که يو شی پورته واچوو، ولې ښرته پر ځمکه رالوېږي؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



تمرين: _ يوه پلاستيکي کڅوړه واخلئ. لکه د لاندي شکل يې د خولې غوندې بياتي کړئ.



ـ اوس د کڅوړې خوله شپږ ځايه سورې کړئ. بيا په هر سوري کې يو يو تار وټړئ. تارونه د لرګيو په يوې توټې پورې وټړئ. لکه دا لاندې رسم:

_ دا يو پراشوټ دی. تاسې د پراشوټ تارونه په لرګي پورې وپېچئ، بيا يې هوا ته وشړئ. پراشوټ به کرار کرار ځمکې ته راکښته شي.
_ ځان سره فکر وکړئ، ولې پراشوټ ورو ورو راکوزېږي؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ